مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۴/۰۵

# غــزل

فـــانـــوس یـــمـــه پـــه غـیـږ کـي بـلـه شمع ګرزوم
ځـان اور کـــي ســوځـــومـــه مــګـر تـا روښا کــوم

د عشق پـــه مــدرسه کـي مــي تـعـلـیم د مینې کړی
ایـــثـــار بـــه لـــه پـتـنـه څخه هـر وخـت زده کوم

یـــو اور دئ پـــه کوګل کي ویـلـوي مــي د تـن غوښي
فــریـــاد مـي وسیله ده خــوږیــن زړګی پـــه سروم

غـمـګی پـه مـا روږد سوی دئ د تېښتي لار ده ورکه
خــنــدا تـشـه پـلـمـه ده هسي ځـــان پـــه غـولـوم

د خدای روی مي در وړی پردېسی لاس را څه واخله
دېـــرش کـالـه سول پـــوره چي پـر اغزو شپه تېروم

وېښـتـه مـي د درتـلـو پـــه انـتـظـار سـپـین سول وطنه
پـــه تـــور مـــخ راوتـــلـــی وم پـــه سـپـین مخ به درځم

آشاوا, کانادا
پنځمه د اپریل 2021ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ